محمد هارون خپل شعشعی


۱۲ جولای ۲۰۱۲

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۵۷

### ۱۲۴- عبادت او عابد:

د عبادت عربي ټکی، لکه څنګه چي له نامه يي ښکاري، د معبود د بندګی او نمانځني په مانا دئ . پر دې دونيا هر څوک په يوه يا بله بڼه د عبادت په چارو بوخت دئ؛ څوک د نس ، څوک د ښځي او اولاد، څوک د مال او دولت، څوک د شان او شوکت، څوک د مقام او شهرت، څوک د جمال او جلال، څوک د خاورينو، ډبرينو يا فلزي بتانو، څوک د نوس د نورو بتانو او څوک هم د يوه لوی او بې مثله ښتتن په عبادت او نمانځنه بوخت دي.

په اسلامي تصوف او عرفان کي عبادت د هغه ازلي او ابدي، بې ساري او بې مثله ښتتن ولمانځني او ستاينې ته وايي، چي د کايناتو پر ټولو موجوداتو راګرځېدلئ دئ؛ او د هر موجود ژوند او مريني واکدار دئ . د قرآني نصوصو او اسلامي ډکتورينو له مخې، عبادت د انسان د پيدايښت د يوازني او اساسي مقصد په توګه بيان سوی دئ . له همدې امله دا مسأله دسپېڅلي قرآن په ښلابېلو آيتو کي، په پراخه توګه څېړل سوې ده؛ د مثال په توګه د بقرې د سورې په ديرلسم او درو اتيايم آيت ( ۲ : ۱۳، ۸۳)، د مايدې د سورې په شپږ اويايم آيت ( ۵ : ۷۶) ، د يونس د سورې په يوسلو څلرم آيت ( ۱۰: ۱۰۴)، د يوسف دسورې په څلوېښتم آيت ( ۱۲: ۴۰)، د انبيأ د سورې په شپږ شپېتم ، اوه شپېتم اواته نيوييم آيت ( ۲۱ :۶۶، ۶۷ ، ۹۸)، د عنکبوت د سورې په اوولسم آيت ( ۲۹: ۱۷)، د صافات د سورې په پينځه نيوييم آيت ( ۳۷: ۹۵)، د ممتحنې د سورې په څلرم آيت ( ۶۰: ۴) او ځينو نورو آيتو کي د لوی ښتتن له عبادت پرته د بل هر موجود د عبادت پر ناسموالي او بطلان ټينګار سوئ دئ . د ذاريات د سورې په شپږ پينځوسم آيت (۵۱: ۵۶) کي د انسان او پيري د پيدايښت اصلي او اساسي مقصد د الله

سبحانه و تعالی عبادت ګڼل سوئ دئ . په دي مبارک آیت کي داسي ویل سوي دي : « وما خلقت الجن والانس الا لیعبدون » یاني ما پیریان او انسانان د دي دپاره پیدا کړل، چي زما عبادت وکړي .

دغو څرګندو قرآني نصوصو ته په پاملرني سره، په اسلامي تصوف او عرفان کي، بې خدایه د هیچا او هیڅ شي بندګي روا نه ده؛ او د همدې لوړ قرآني او عرفاني امر له مخي ، د طریقت سالکان تل د یوه محبوب میني اوسپېڅلي عبادت ته هڅول کیږي .

په عرفاني سیر او سلوک کي د بې نیازه ښتن حضور ته د بندګی سر ټیټول؛ او د هغه امرو او حُکمو ته غاړه ایښوول، د کامل عارف له نه بېلېدونکو ځانګړتیاوو څخه ګڼل کیږي؛ ځکه عرفاني سالک هغه عابد نه دئ، چي د دونیا په عبادت د آخرت حور او قصور تر لاس کي . د سترو عرفاني مخکښانو د ویناوو له مخي، د بې ساري او بې مثله ذات په بندګی کي، ټول عالمونه او په هغو کي نغښتي موجودات د ریښتیني عابد پښو ته د غُلامی سر ټیټیي[۱] . عرفاني مفکرین استدلال کیي(کوي)، که غواړئ د هر نیست او معدوم له غُلامی څخه وژغورل سئ، باید ځانونه د یوه معشوق او معبود په عبادت سره سرلوړي کئ . د دې معشوق او معبود بندګي د هر ډول بتانو له بند ګی څخه دژغورني او ازادی په مانا ده .

په اسلامي تصوف او عرفان کي د خدای تعالی له ریښتینو عابدانو څخه غوښتنه کیږي، چي پر خپلو ښکاره عبادتو سربېره، د پټو عبادتو په اړتیا او ارزښت هم ځانونه پوه کړي . د اسلامي تصوف او عرفان په پراخه نړئ کي د پټ عبادت مفهوم همدا پټ ذکر دئ، چي د خدای د میني هیڅ لاروی یې باید له هغه غافل نه یي . دا ذکر باید د سالک د ژوند په هره شیبه او هرخوځښت کي جاري یي(وي) .

د پښتنو وتلي عرفاني لاربنود او سیاسي مشر - بایزید روښان ( ۹۳۱ - ۹۸۰ هـ ق) په عبادت کي د معرفت او خدای پېژندني پر اصل ډېر ټینګار کړئ دئ . پیر روښان د منکرانو له یوې ډلي سره د مناظرې پر مهال هغوی ته وویل : « دا چي له خدایه خبر نه یاست؛ او په بې خبرئ سره د هغه د وجود په باب شاهدي ورکوئ، سمه خبره نه ده . اول باید د خدای تعالی په اړه پوهه تر لاسه کئ؛ هغه په یووالي سره وپېژنئ؛ بیا که اشهد ان لا اله الا الله . . . وواياست، نوسمه خبره ده . » وروسته یې د دواړو عالمو د سالار- حضرت محمد ( ص) دا مبارک حدیث هغوی ته ووایه : « من قال اشهد بغیر شهادة فهو الکاذب » یاني هغه څوک درواغجن دئ ، چي بې لیدو شاهدي ووایي [۲]. پیر روښان، د انسان کالبوت د هغه مریي په څېر ګڼي، چي تل هڅه کیي د خپل بادار له اطاعته سرغړونه وکي؛ او د فرعون په شان له خدایه طاغي او باغي اوسي . پیر روښان د طاها د سورې د دروڅلوېښتم آیت ( ۲۰ : ۴۳) د حُکم په یادولو سره د فرعون د سرکښی او ایداد مسألي ته ګوته نیسي[۳] .

زموږ عابد او عارف شاعر، علي محمد مخلص، د تصوف او عرفان د لویو مخکښانو د عرفاني مقامو په رڼا کي تر توبې وروسته د عبادت او عابدمقام ته داسي ګوري :

عبادت دوهم مقام دئ د عابد بهښت انعام دئ

په اخلاص دی عبادت که مُخلص خلاص له ملامته

مخلص، په خپل عرفاني او تاریخي اثر« حالنامه » کي د عبادت د ریښتیني مفهوم په باب، له ښتن تعالی څخه د غوث الاعظم دي پوښتني ته اشاره کړي ده، چي وایي : « ای صلواة افضل الصلواة عندک یارب! » یاني ای ربه! ستا په نظر کوم لمونځ تر ګردو غوره دئ . د الله تعالی له خوا په جواب کي ورته وویل سوه : « . . . ترک الوجود » یاني هغه لمونځ، چي د وجود په پرېښوولو یا هېرولو سره کیږي . په داسي لمانځه کي د

عابدت روح او روان د خپل معبود په وجود کې ډوب يي . د عابد ټولي کړني په معبود پوري اړه ولري؛ لکه د لستوني خوځښت، چې په لاس پوري تړلئ يي[۴].

مخلص، په « حالنامه » کې د الهي ميني د وتلي او مړني شهيد - حسين ابن منصور حلاج ( ۲۲۴ - ۳۰۹ هـ ق) د عبادت په باره کې يوه عرفاني کيسه راوړې ده، چې يادونه يي دلته بې ګټې نه ده . دی کاږي، کله چي واکمنانو منصور بندي کئ . په غاړه، لاسو او پښو کې( کي يي) دولس منه اوسپنه ور واچوله؛ خوسره له هغه هم ده په دې شپه زر رکعته لمونځ وکړ . د محبس ساتونکي د عبادت د دې شېبوپه ليدو سره سهار له منصوره پوښتنه وکړه : « ته وايي زه په خپله حق يم؛ نو دا لمونځ بيا د چا دپاره کيې؟ ! منصور ورته وويل : ودرېږه ګرانه! زه خپل قدر په خپله ښه پېژنم[۵]. »

د مخلص د عرفاني نړۍ ليد له مخې، هر چا چې د اروا ازادي پېژندلي ده؛ او ځان يي لو ( لويه) اروا يا روح اعظم ګڼلئ دئ، هيڅکله خپل بنده وجود د حق تعالی له عبادته نه را ګرځيي؛ ځکه چي د سکونت په مقام کې جسم د خادم او اروا د مخدوم ځای لري[۶] . دغه راز، مخلص په « حالنامه » کې د خپل کامل پير، بايزيد روښان، له عرفاني نظريو سره سم د حق تعالی پېژندنه او پلټنه تر ټولو فرضو مخکي او غوره فرض ګڼلئ دئ . هغه د نبي عليه السلام دا مبارک حديث د سند په توګه راوړئ دئ، چي لاربښوونه کيي :« طلب الله تعالی فرض قبل الكل فريضة » ياني د لوی ښښتن پېژندنه او پلټنه تر ګردو فرضو مخکنی فرض دئ . د « فتوحات مکيه » ژباړونکي او محشي د الله سبحانه و تعالی د عبادت په اړه له « نهج البلاغه » څخه د حضرت علي کرم الله وجهه دا وينا را وړې ده : « اول الدين معرفة » ياني د دين تادوا او بنسټ، د خدای تعالی جل و علا پېژنده ده . د هغه بشپړه پېژندنه؛ او د هغه پر سته والي بشپير باور، په بوازيتوب سره ، دهغه د پېژندني په مانا دئ[۷] .

**د نورو مالوماتو دپاره وګورئ : شريعت، طريقت، حقيقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت، سکونت ، جمعيت او تفرقه ، حضور او غيبت، ذکر او فکر، عرفان او معرفت .**

**لمنليکونه**

۱ رزمجو ۲۷۳ .

۲ مخلص، حالنامهٔ بايزيد روښان ۱۶۷ – ۱۶۸ .

۳ مخلص، حالنامهٔ بايزيد روښان ۷۲۱ .

۴ مخلص، حالنامهٔ بايزيد روښان ۷۴ .

۵ مخلص، حالنامهٔ بايزيد روښان ۷۲۰ .

۶ جوادی، فتوحات مکيه حاشيهٔ صفحات ۳۰۵- ۳۰۶ .

۷ مخلص، حالنامهٔ بايزيد روښان ۷۲۱ .

پاته لري